امریکا د ولسمشریزو ټاکنو لپاره ۲۹ میلیونه ډالر مرسته کوي

په کابل کې د امریکا سفیر جان بس اعلام کړی چې هیواد به یې له افغانستان سره د ټاکنو د عملیاتي چارو د پرمختګ موخو لپاره ۲۹ میلیونه ډالر مرسته وکړي. جان بس پرون چهار شنبه ورځ له یه استولي اعلامیه کې د ټاکنو د بودیجې د نهایي کېدو هرکلی کړی او زیاته کړي یې، چې امریکا هم د ټاکنو د پرمختګ لپاره له افغانستان سره ۲۹ میلیونه ډالر مرسته کوي. جان بس وایي، هیواد یې په افغانستان کې د کورنیو ځارونکو مصارف هم ورکوي. چې خلک د ټاکنو د اعتبار او روښانتیا په لړ او ډاډمن شي. جان بس دغه راز ښکار کړی چې د خلکو له نمې سره سم باید ټول ولسمشري کاندیدان په هیڅ ډول له دولتي سرچینو په کمپاینونو کې استفاده ونه کړي. ټاکل شوي چې د ولسمشري ټاکنې د راروانې میزان میاشتې په شپږمه وشي. دا واړ ولسمشري له ۱۸ کاندیدان درېدلي چې د ټاکنو لپاره تر اوسه حکومت کمیسیون له شپږ اعشاریه ۱ میلیارده افغانۍ ورکړي او ۲ اعشاریه ۲ میلیارده افغانۍ یې له نړیوالې ټولنې غوښتې دي.

Ketabton.com

...الي هوکړه، پر ولسمشریزو ټاکنو اغېز نه کړي ((

...د اساسي قانون له مخې یو ضروري بروسه ده او د افغانستان راتګونکی ولسمشر هغه که زه وم ...ب ولري، ځکه سوله سختې برېکړې، سختې جانې وهل غواړي او باید وکولی شي چې بېرته یې د افغانستان پر خلکو وغځي ((

...، هغه امریکا او طالبانو ترمنځ نومسوري د سې ...ری پر شپې په ورځ په کابل کې د ترکیې د ...افغان «ټي ار ټي» له نړیوالې شبکې سره په ...، له د مرکه کې وویل، د امریکا او نورو مذاکره کوونکو سره یې په ډېر توافق کړی چې له طالبانو سره له انتخاباتو مخکې پر ابتدایي سوله باندې سولې پر یو کاري چوکاټ توافق وکړي. په ډېر مرکه کې

۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرمقاله

د مؤقت حکومت غوښتنه د افغانانو د ټاهي «طرحه!» ده

له نړۍ پټه مرغه، چې د ولس د ارادې، غوښتنو او ملي ګټو پر خلاف یو شمېر کسان لا هم په افغانستان کې د ولسي نظام پر ځای د «مؤقت حکومت ۲» د راوستلو هڅې کوي؛ هغه «مؤقت حکومت ۲» چې د افغانستان د تاریخي او قسم غورځنګونو له هوا د افغانانو د برېدلي او د هېواد د له منځه وړلو طرحه ده، دا طرحه لومړی د پاکستان لومړي وزیر عمران خان په خوله بیان شوه، بیا یې په ټاټل کې غږ پورته شو او دا دی د ولس له مخالفت سره سره بیا هم د هغو کړیو له هوا زېږېدلې کړې، چې د ملت ارادې او ملي ګټې ورته د لوت د ډاټې هومره ارزښت هم نه لري، خو د «مؤقت حکومت ۲» د دې ناوړې او پلېتې طرحې پرځای د ولس او حکومت د ریاح ساتونکو دې او هغه دا چې دا طرحه پوچه طرحه ده، دا طرحه د افغانانو د برېدلي او د هېواد د وړانولو او تجزیې طرحه ده. افغان ولسمشر محمد اشرف غني یو ځل بیا له ترکي تلویزیون سره په مرکه کې د «مؤقت حکومت ۲» طرحه ځنډلې او په دې اړه یې د حکومت او ولس کمه د ریاح یو ځل بیا روښانه کړی دی. د ولس د ریاح د لوري غوابي میاشتې په ۱۲ مه د سولې لپاره په ملي مشورتي لویه جرګه کې ساتونکو د «مؤقت حکومت ۲» پرځای ملي غږ پورته شو او غوښتونکي یې په سختو ټکو وغندل شول، خو دې جرګې د اوسني حکومت ننګه او ملاتړ بیان کړ. دا هغه لویه جرګه وه، چې څه ناڅه فرې نیم زره استازي یې د لومړي ځل لپاره د ولس په اراده او د انتخابانو له لارې غوره شوي وو؛ ښه پاڼه یې هم ورکړه او د نورو غړمایشي جرګو پر ځای یې د ملت اساسي غوښتنې مطرح کړې، نو دا ننګه هر څوک بیا هم هڅه کوي، چې د «مؤقت حکومت ۲» د راوستلو او د ولسي نظام د پرځولو لپاره کار وکړي، هغوی په ملت کې د لا لوړې کرکې ورکړې او خپل ځان یې خپله سپکوي؛ دا ولې یوه ځله بیولاکه هم غږوي، ګله چې د «مؤقت حکومت ۲» د غدښې غږ پورته شي، نو بیا به ځله ځله د ولسمشرزو ټاکنو د غندولو او د افغانستان د نظام پرځای د نورو مخالفانو د راولاړولو لپاره غږ پورته کوي، هغوی وایي، چې کسي ولسمشریزې ټاکنې دې له طالبانو سره نړ سولې و غندول شي؟ هو سوله د افغان ولس ملي غوښتنه او سنره اسلامي فرېوده ده، چې افغان ملت نړ بل هر څه ورته ډېره اړتیا لري، خو کومه ده سوله؟ سوله نړ اوسه به هېڅ لوګه ځپنې شوي نه ده، دوه خله ولسمشریزې ټاکنې د هغې سولې لپاره وغندول شوې، اوس هم نړ ګلې با میزان میاشتې پورې ټېره موده ده، چې د سولې لپاره بسنه کوي، دا کز او دا میدان، څوک سوله راولي او له چا سره سوله کوي؟ افغان ولس له هغې فورمول ورکوونکو یونې، چې د ولسمشریزو ټاکنو به دوه خله به غندولو سره، چا سوله را وسنه او با یې سوله مملکه کړه؟ له اوسني طالب سره خو سوله کېدای نه شي، ځکه دا طالب په افغانستان کې د پاکستان، ایران، روسیې او د پردې نړ شا د انګرېزانو د ناوړو کړنو د دوام لپاره د جګړې لوګې دي، چې هېڅ د سولې لپاره نمېږ نه شي لولی، خو افغان حکومت د سولې راوستل ستر لومړیتوب لپاکلی او که بیا هم طالب ته ځان غېلواک ښیي، نو دوی دې نړ ولسمشریزو ټاکنو وړاندې سوله وکړي، خو د ناتولې سولې په ځلمه د ولسمشریزو ټاکنو غندول، په اصل کې افغانستان د بحران او ملي جګړې او نه ور لېل وهل دي. افغان ولس او په نېره یا افغان حکومت د داسې ناوړو پلانونو مخنیوی به لول زور او قوت سره کوي او ولسمشریزې ټاکنې با د ولسي حکومت د دوام اړتیا وینې، چې د ملت خبر به کې دی که له ټاکنو وړاندې سوله ونه شي، نو غوره ده، چې د سولې لپاره نوی ټاکل شوی ولسمشر د سولې هڅو ته دوام ورکړي، د سولې لپاره نمېږ ونیسي او باید د سولې هېم او حیاتي نرون لاسلیک کړي.

خیبرپښتونخوا له مرکزي حکومته د خپلې برېښنا پور غواړي

د خیبرپښتونخوا حکومت د اسلام آباد له مرکزي حکومته د برېښنا یا بجلۍ په بدل کې ۱۲۸ میلیارده روپۍ غوښتې چې زر نر زره یې دې ورکړي. د ټوانیې د صوبې حکومت ملا کار حمایت الله په دې اړه وېلي، دا ۱۲۸ میلیارده روپۍ دې او دا تر بېلې او نورو بجلۍ پېدا کوونکو پروژو پېسې دې هغه وېل د ۲۰۱۸ کال د اپریل په میاشت کې یوه کمېټه جوړه شوې ده د دې لپاره او اوس خبره اخرې شوې او دوی نړ هم نه په شا کېږي. د خیبرپښتونخوا د خزانې وزیر تیمور سلیم جګړا په وروستیو کې وېلي مرکزي حکومت دې د جوړې کړای شوې فارمولې له مخې د برېښنا یا بجلۍ دګټې د خالص رقم صوبې ته د ورکولو او د لوظنامې له عملي کولو، نه وېرېږي هغه وېلي دا روپۍ له نېرو ۳۰ کالو راهیسې پرې پاتې دي او دوی ګټې چې په اسلام اباد کې د دې مسئلې د هوارولو لپاره نورې انتظامي شخړې جوړول کېږي هغه وېلي دا د ۳۳ کالو مسئله ده او دوی مرکزي حکومت ته وېلي چې دا مسئله دې نوره هواره کړي هغه ریاله کړي له ۳۰ کالو پخوانی زمانې بوه روپۍ اوس هم په بوه روپۍ مېلاوېږي او په دې کې ډېر ټاوان دی. روان کال هم د برېښنا یا بجلۍ دګټې لپاره مرکزي حکومت له دغې صوبې ۳۲ اعشاریه اووه میلیارده روپۍ اېستاري کړې وي او د خزانې وزیر وېلي له دې امله د صوبې په پرمختیایي چارو کې کمې راغلې. صوبې حکومت له مرکزي حکومته دا هم غوښتي چې د برېښنا د انتظامي مرکزي دفتر یا واپډا هلوس دې د لاهور په ځای اسلام اباد ته منتقل کړل شي.



د ترکیې له «TRT» راډیو ټلویزیون سره د جمهورریس غني مرکه

۱۳۹۸د چنګاښ ۲۴ | ۱۹ | ۲۰ د جولای ۱۵ مه

خبرپاڼه منه چې نن مو د ترکیې دولتي راډیو ټلویزیون شبکې «TRT» ته وخت ورکړ.

جمهورریس غني خوښ یم چې ستاسو هرکلی کوم همداراز د ترکیې خلکو او حکومت ته مې نېکې هیلې ورسوی.

خبرپاڼه له یوه لوري طالبانو د اسلامي امارت د بیا راژوندي کولو لپاره خپل پروګرام پټ نه کړ او له بل لوري امریکایان هم اله افغانستان ځخه د خپلو خواکونو د ایستلو غوښتونکي دي. په دوحه کې د غونډې په ترسره کېدو سره، داسې ښکاري طالبان لوړ موقف خپل کړي او امریکایانو هم امتیازات ورته په پام کې نیولي دي. ستاسو په نظر، د دوحې غونډه به په افغانستان کې د سولې د ټینګښت لامل شي؟

جمهورریس غني زما په نظر، دا ټول د فرضیاتو په کچه کې دي. اساسي موضوع دا ده چې په افغانستان کې ثبات بوازې د یوه ډیموکراتیک پېر له لارې امکان لري.

لومړی، که چېرې موږ داسې سیستم ته لاسرسی ونه لرو، چې خلکو ته د خپل هېواد د رهبر د انتخابېدو زمینه برابره کړي، نو د ثبات ټینګښت امکان نه لري. د افغانستان خلکو هېڅکله هم امارت نه دی منلی، بلکې په تصنعي ډول پر دوی تحمیل شوی و. د سولې مشورتي لویه جرګه چې د غوبي میاشتې له ۹ تر ۱۲ مې جوړه شوې وه، په «جمهوري نظام ټینګار وکړ. سوله باید په جمهوري نظام کې راشي، نه په اسلامي امارت کې.

دویم، بوې هوکړې ته د لاسرسي لپاره نیاري، د هوکړې نتیجه ګیري او د هوکړې لیک تائید د سولې د هر پېر مراحل ګڼل کېږي. بوازې خلک کولای شي د پارلمان، لویې جرګې یا ټولپوښتنې له لارې د سولې هوکړه لیک تائید کړي. په همدې اساس، باید پوه شو چې دا پېر بېلابېلې مرحلې لري.

د امریکا او طالبانو ترمنځ بحثونه پر خلورو اصلي برخو متمرکز دي. چې په ټولو موضوعاتو هوکړه ونشي، په هېڅ بوې موضوع به هوکړه نه کېږي. له کوم وخته چې د افغانستان حکومت د روان کال په جنوري میاشت کې، په افغانستان کې د امریکایي خواکونو د حضور کچې د ارزولو وړاندیز مطرح کړ، پر دې موضوع د نظر هېڅ ډول اختلاف نشته. یقیناً تاسو به په دې اړه نوري پوښتنې هم لرئ.

له تروریستي شبکو سره د اړیکو اقطع کولو په اړه د طالبانو د ژمنې موضوع بوازې په امریکایانو پورې نه مربوط کېږي، بلکې دا په نړیواله سیمه‌ییزه او په ځانګړي ډول په ملي کچه بوه موضوع ده. په همدې اساس، دا ساده موضوع نه ده، چې کوم تضمین یا د تائید او ارزونې سیستم ته له لاسرسي پرته په راحتي اطالبانو ته امتیاز ورکړل شي.

دریمه موضوع، اورېند دی او موږ په بریالي ډول دا کار کړی باید وویل شي چې د سولې راوستو لپاره د اورېند نوښت د افغانستان د حکومت له لوري مطرح شو، ځکه چې د پخواني جمهورریس په وخت کې اورېند ناشونی و، خو موږ هغه عمومي کړ.

څلورم، د افغانستان د حکومت او طالبانو ترمنځ خبرې دې؛ چې باید مذاکره وکړو. دوه نور اساسي موضوعات؛ لومړی د نښه یې توکو او له جرمي اقتصاد سره د طالبانو اړیکه ده، چې دا یوه نړیواله او سیمه‌ییزه موضوع ده. دا موضوع د هیروئینو د تولید له مرحلې نېره شوې او اساسي موضوع د مت آمفتامین او شیشې د روږدي کوونکو مادو تولید دی، چې په نړیواله کچه ورځ پاملرنه لازمې ده.

او بله موضوع د پاکستان او له طالبانو سره د دغه هېواد اړیکې دي. په همدې اساس، زما په نظر په دې اړه قضاوت چې اطالبانو ته امتیاز ورکړل شوی دی، تر وخت وړاندې دی هم افغانستان او هم امریکا په دې اړه جدي هڅې پیل کړې او په دې برخه کې د دواړو هېوادونو سیاسي اراده شته ده. اوس توپ د طالبانو په میدان کې دی، چې مثبته شي هغوی له دوامدار سیاسي پېر سره یو ځای کېدو ته ژمنتیا لري او که نه.

خبرپاڼه تاسو په خلونو د طالبانو د جلبولو لپاره هغوی ته وړاندیزونه کړي، خو طالبانو یا هر ځل له افغان حکومت سره له خبرو ډډه کړې دلیل یې څه دی؟

جمهورریس غني دلیل یې ایډیولوژیک موضوعات، له امارت سره د هغوی ټولیز فکر او اله نورو سره د طالبانو اړیکې دي. باید وویل چې موږ بریالیتوبونه هم لرو. په ۲۰۱۸ م کال کې، موږ په ۲۰ کلونو کې په لومړي ځل وتوانېدو اورېند عملي کړو او هغه اورېند یوه ازموینه وه، چې په بشپړ ډول زموږ په کنټرول کې وه. د طالبانو لس زره کسان د هېواد له نورو خلکو سره یو ځای شول او تر اورېند وروسته هغوی په هېڅ صورت د جګړې بیا پیلېدو نه لېواتیا نه لرله. له همدې امله باید د طالب جنګیالیو او رهبرانو ترمنځ یې تویېر وکړو، هغه موضوع چې د اورېند پر مهال په بشپړ ډول روښانه شوه باید له دې هم انکار ونه کړو، چې د سولې ټول پېرونه له پېچلتیاو خالي نه وي او امقاومتا او نه منل د سولې په پېر کې نوې موضوع نه ده. باید ووایم، د سولې هدف چې موږ یې هڅه کوو، هماغې چې مشورتي لویې جرګې موږ ته واک راکړی، همه هدف دی چې ځان مو ورته وقف کړی دی.

خبرپاڼه داسې ښکاري چې په دې اړه د نظر اختلاف شته، چې څوک د هېواد په ډېرو سیمو کنټرول لري. آیا دا موضوع اهمیت لري آیا تاسو په باور، آیا «د ډېرو سیمو او ساحو کنټرول» کولای شي د امتیاز اخېستو اساس وګڼل شي؟

جمهورریس غني دا موضوع له دوو راویو تشریح کولای شو.

لومړی، که چېرې رسمي شمېرو ته وګورو، طالبان د هېواد د ټولو ۴۰۰ ولسوالیو ۹ ټولې بوازې په ۲۲ ولسوالیو کنټرول لري. دا وضاحت د سلنې د ترلاسه کولو لپاره تاسو سره ډېره مرسته کوي.

دویم، موږ باید عیني واقعیتونه په پام کې ونیسو. د هېواد ډېر نفوس په ښارونو کې ژوند کوي. حد اقل د هېواد پنځه میلیونا کسان، چې د هېواد د ټول نفوس نو پر شپږمه برخه جوړوي، په کابل کې ژوند کوي. که چېرې هغه ښار خلک، چې د ښارونو په مرکزونو کې ژوند کوي، محاسبه کړو، نو پایله به یې ښو لوی رقم وي. باید ووایم چې آن د هېواد یو ښار هم د طالبانو په کنټرول کې نه دی.

دریم، د هېواد ځر خلیونه او غربي سیمې دي. که چې «د تک رالنګ د آزادۍ» په اړه خبرې کوو، هغوی اطالبانا د خپلو شبکو په مرسته د تک رالنګ آزادي لري، خو د سیمو د کنټرول مسئله په منفي ډول تعریفوي. هر طالب پاسپورټ، تذکرې او روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسي غوښتونکی دی، چې دا کار په حکومت پورې اړه لري. هغوی له چینایانو او وتنامیانو سره یو څه شباهت لري چې د لاسرسي او د خدمتونو د وړاندې کولو لپاره یې یو سیستم جوړ کړی دی.

اصلي موضوع، د طالبانو «منفي قدرت» دی، چې مشورتي لویې جرګې هغه د هېواد د اوسېدونکو لپاره یو مخرب قدرت، په روغتونونو برید، په پوهنتونونو برید او په کاروانونو د برید په نوم تائید کړ. په همدې اساس، دغه ډول قدرت یو مثبت لیدلوری نه، بلکې د جګړې یو تحریکوونکی عامل ګڼل کېږي او ټولنه هم هغه تائیدوي. په همدې اساس، دا خبره بوې حلاري نه اړتیا لري او موږ ځان مسوول بولو چې یوه حلاره ورته وتپوو. دا موضوع زموږ د اجنډا په لومړیتوبونو کې ځای لري. په همدې دلیل، هر ډول انګېزه یا اندېښنه بوې حلارې نه د رسېدو په موخه د شرایطو د تغیر لپاره ده.

خبرپاڼه باغلی جمهورریس، ښکاري ډېر افغان سیاسي اپوزیسیونونه لاس په کار شوي وي او له د امریکا متحده ایالتونه او طالبان غونډې جوړوي، خو احتمالاً وکولی شي خپل سیاسي راقوتکی تضمین کړي یا هم اړ شوي له دې کار څخه پرته بل بدیل نه لري. کولی شي خپل د سولې پلان توضیح کړی؟

جمهورریس غني په پیل کې د سولې هغه پلان چې زه یې لرم، ټولټوله دی په دوحه کې د خبرو په وروستي دور کې چې مدلي ټولني، ښځو، خوانانو او د ټولنې بېلابېلو اقشارو په کې ګډون کړی و، په خودجوشه، خو په څرګند ډول له «جمهوري نظام» څخه دفاع وشوه. که چې د سیاسیونو په اړه خبرې کوو، هغه سیاسي ګوندونه مې هدف نه دي، چې خانګړې پاکیزې حوزې لري.

آیا هغوی پخپله دې کار ته خانونه انتخاب کړي؟ اساسي موضوع دا ده، چې د افغانستان حکومت، د افغانستان د خلکو منتخب استازی دی. د افغانستان د حکومت له هوکړې پرته هېڅ ډول حرکت نشي ترسره کېدای. آیا د سیاسیونو پوه ډله کولای شي اد خبرو د لوریو؛ سیاسي بندیان آزاد کړي؟ یقیناً چې دغه صلاحیت بوازې له حکومت سره دی.

زموږ د سولې پلان لاندې برخې لري:

لومړی، د سولې د ائتلاف جوړېدل، چې د نړیوالې کچې ورځ پاملرنه لازمې ده.

دویم، د هېواد یو ښار هم د طالبانو په کنټرول کې نه دی.

دریم، د هېواد ځر خلیونه او غربي سیمې دي. که چې «د تک رالنګ د آزادۍ» په اړه خبرې کوو، هغوی اطالبانا د خپلو شبکو په مرسته د تک رالنګ آزادي لري، خو د سیمو د کنټرول مسئله په منفي ډول تعریفوي. هر طالب پاسپورټ، تذکرې او روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسي غوښتونکی دی، چې دا کار په حکومت پورې اړه لري. هغوی له چینایانو او وتنامیانو سره یو څه شباهت لري چې د لاسرسي او د خدمتونو د وړاندې کولو لپاره یې یو سیستم جوړ کړی دی.

اصلي موضوع، د طالبانو «منفي قدرت» دی، چې مشورتي لویې جرګې هغه د هېواد د اوسېدونکو لپاره یو مخرب قدرت، په روغتونونو برید، په پوهنتونونو برید او په کاروانونو د برید په نوم تائید کړ. په همدې اساس، دغه ډول قدرت یو مثبت لیدلوری نه، بلکې د جګړې یو تحریکوونکی عامل ګڼل کېږي او ټولنه هم هغه تائیدوي. په همدې اساس، دا خبره بوې حلارې

(c) ketabton.com: The Digital Library

روغتیا او ځوند

د تندي او مخ ګونځې مو د ټول عمر لپاره لرې کړئ

د تندي او مخ ګونځې معمولاً په زېږېدنه کې پېښ کېږي. خو ځینې وختونه کېدای شي دا ګونځې له زېږېدنه مخکې هم پیدا شي. ۹۰ واړه څخه زیاته کې سږ یا لږ څه غلاړ سنګسو دغو ګونځو نه پراختیا ورکوي. په اوسنۍ وخت کې دا ستونزه نو ډېره عامه شوې ده خو څنګه ګڼو له زېږېدنه پېښې چې په زړه کې اندېښنې شي. د لنډې یې د ځینو لاملونه او د حل یې لارې یقیناً یو لاملونه

۱ - د لمر وړانګې: د لمر وړانګې نه یوازې سنګسو د مخ یا تندي په ګونځو کې مهم رول لري، بلکې کېدای شي سنګسو د مخ د پوست د سرطان لامل هم وګرځي. نو د لمر په وړاندې تر ګرځېدلو مخکې باید د لمر ضد کریم وکاروي، پدې ډول به وتوانېږي پوست نه مو د رسېدونکي زیان او د ګونځو د زېږېدو کچه را کمه کړي.

۲ - د سګریټو څکول: د تندي او مخ د ګونځو د پراختیا تر ټولو لوی عامل د سګریټو څکول دي. څکه په سګریټو کې موجود نیکوټین د ځګرې زړګوب اصلي عامل ګڼل کېږي. نو اړینه ده چې څښه غوره ځکه ژر تر ژره پریږدل شي.

۳ - د خوب نشتوالی: که چېرې ګڼو په کافي اندازه خوب وه نه کړي، نو سنګسو بدن نشي کولای چې سنګسو د بدن مړې حجرې را ژوندي کړي، نو څکه ګڼو باید د شپې څښه تر ته ۸-۹ ساعتو پورې په شپه او ورځ کې خوب وکړي نو پدې ډول سره به د ګونځو د پراختیا مخنیوی وکړي.

۴ - د ګڼو نو په اوبو ربات مخ پرېمنځل: د هغه ګڼو د اوبو څښه باید په زیاته اندازه د مخ پرېمنځلو لپاره کار واخلي نه خیټل شي چې د اوبو ذخیره ور څښه لېږي وي. څکه چې دغه اوبه د زیات وخت لپاره په ګڼو کې وي او کېدای شي په زهرجنو مواد ککړې وي، مګر په اوسنۍ وخت کې دا چاره ناشونې ده چې د ګڼو نه اوبو څښه ډې کار واخلو خو که چېرې د کوهې، څاه یې، ګاره اوبو نه استفاده وکړو نو د مخ پرېمنځلو لپاره باید نه ډې اوبو څښه کې واخلو نو هغه ځکه د پول ساینونو استعمال هم سنګسو د مخ څښې غوږ، نه مخه وړي نو باید په مخ پرېمنځلو کې مو له ډېر احتیاط څخه کار واخلي او په ډېرو ټیټو خاصیت لرونکو ساینونو مخ ونه مینځي او تر مینځلو وروسته باید پاک دستمال څخه پاک، بلدې خپل مخ وچ کړي.

حل لارې

۱ - د سطحې طرز مو سم کړي. کتاب ډېر له پړتې مه لولئ که چېرې په لیدونو کې کوم ستونزه ولري، نو کوښښ وکړئ چې د سترګو پر نښه برابري ښکې وکاروئ، څکه کتاب نه ډېر پړتې کتل هم سنګسو د تندي او مخ د ګونځو په پراختیا کې مهم رول لري.

۲ - د لمر ضد عینګې وکاروئ: د لمر ضد عینګې استعمالول سنګسو د مخ د ګونځو د پراختیا مخنیوی کوي.

۳ - مناسب وقرې: د ۸-۹ ساعتو کې د څلېږ قدم ووهې او بیا سمر سره ۹۰ ثانیې کې یې وګرځې. د مخ سمښت لمسون وکړئ که څوک ګڼې یې سمر وګرځي. څکه پر سمر ټیټل سنګسو د بدن عضلات دي. نه یې وګرځي چې استراحت وکړي.

۴ - متنظم غذائي رژیم: د متوازن غذائي رژیم سنګسو د ټول وجود د سالم والي سربېره سنګسو د پوست په سالم والي کې هم مهم رول لري. کوښښ وکړئ په زیاته اندازه میوه، سبزه او د کب غوښه وخورئ.

۵ - هڅې: هڅې د ګونځو د ورکولو لپاره یو له مهمو مواد وګڼل کېږي.

تکلاره یوه کاچوغه مېنې راواخلئ او یو څه اندازه مېده کوږکې ورسره کښې کړئ او وروسته یې مخ په ګونځو شو خلیونو ووهې.

۶ - د زیتون تیل: د زیتون تیل یوازې ډېرو ګټورو تیلو څخه ګڼل کېږي.

ګونځې شوې خلیونه د زیتون په تیلو غوړول (ماساجول) د ګونځو په کمښت کې مهم رول لري.

۷ - هڅه: یوه دانه هڅه راواخلئ په اوبو کې وابشوئ او تر هغه وروسته یې مېده کړئ، یوه کاچوغه عسل او یوه کاچوغه وچې شیدې ورسره ګډې کړئ او وروسته به مخلوط شوي محلول په ګونځو سوو خلیونو ووهې په ورځې زوند کې په ډېرو ساده بدلونونو سره کولای شي په زوند کې مو ستر بدلون راولي. خوان به ښکاره شي او پر خپل ځان به مو باور زیات شي.

صالح محمد خټک

له سپورت پرته مو وزن کم کړئ

د وزن زیاتوالی په اوسنۍ وخت کې یوه سره ستونزه ګرځېدلې. د ځینې په ساحه کې غوږ زیاېدل یو غیر صحي امر دی چې ورسره ټول بدن ستونزمن کېږي. د وزن زیاتوالی د زړه او شکر ناروغۍ خطر زیاتوي. پوهان وایي چې مصنوعي غوښه پوهان سپارښته کوي چې مصنوعي یا پروسیس شوې غوښه په اشتها کې د نورو ناروغیو زامنځته کولو سربېره غوږ هم په پراخه کچه زیاتوي چې ورسره اشتها چاڼېږي. د غوښې په بدل کې اومیګا ۳ خواړه چې غوږ نه لري د وزن په کمولو کې مرسته کوي. په دې کې سورځې غوښه هم شامله ده چې د وزن زیاتوالي سربېره د سرطان لامل هم کېږي.

د الوګسانو چپس: پوهان د الوګسانو مصنوعي چپس او دې ته ورته خوړو څخه د ډډې کولو سپارښته کوي.

ګاري خپاک: ګاري خپاک په هغه کې سوزش رامنځته کوي، پدې شمېر خپرنو د ګاري خپاک استعمال او په ملا کې د غوږ د زیاتوالي اړیکه یا ربط موندلی دی، ددې په بدل کې د لیمو اوبه، پاډرنګ یا نعناع غوره خواړه دي.

الکول: د انګلستان د ملي روغتیا اداره وایي چې په اوونۍ کې لږ تر لږ الکول خښل په کار کې (۲۴۲۰۰) کالوري زیاتوي، دغه شمېره په اسان کې په لوړه کچه غوږ زیاتوي.

کیک، بسکټ او نور خواړه خوراکونه: دغه ډول خواړه له مالګې، غوږ او خوړو نه ډک وي، نه همدې کیله پوهان دداسې خوړو څخه په سختۍ سره د ډډې کولو سپارښته کوي.



د زیاتو خولو راتلو لاملونه او د حل لارې!

د ځینې او ملا په ساحه کې د غوږ له منځه وړل د انسان پر روغتیا زور مثبت اغېز کوي. دوی وایي چې زیاتره خلک په دې لړ کې بوازې پر ورزش انحصار کوي خو ددې لپاره د خوراک سمون هم ډېر اړین دي.

له دغو خوړو څخه ډډه وکړئ:

د انسان له بدن څخه خوله راتلل یو طبیعي کار دی چې د بدن په پیچ سالنو کې مرسته کوي، خو ځینو خلکو څخه د نورو په پرتله زیاتې خولې راځي چې په عام ډول یو بد عادت ګڼل کېږي.

د خولې نورماله اندازه سړي له تشویش سره نه مخ کوي خو که چېرې انسان له اندازې زیات او له ځنډ پرته په دوامدار ډول خوله کېږي، نو دا یوه ستونزه ګڼل کېږي، انسان له شرمندګۍ سربېره د بدبویې ویره هم لري.

پوهانو د زیاتې خولې راتلو په اړه بېلا بېل لاملونه په نښه کړي دي: لومړی دا چې د ښځو په پرتله نارینو څخه زیاته خوله راځي، دویم: هغه کسان چې فزیکي ورزش نه کوي هم زیاته خولې لري ځکه، مګر دا چې هغه کسان کوم چې زیات ورزش کوي د هغو په پرتله چې نه یې کوي کمې خولې راځي، دریم د وزن زیاتوالی هم د زیاتې خولې راتللو سترې لامل دي.

بوازې دا نه بلکې زیاته خوله راتلل د ځینو نارونیو لامل هم کېدای شي چې په لاندې ډول دي:

دزړه حمله: که چېرې مو له بدن څخه زیاته خولې وځي نو د زړه حملې او یا هم د زړه کومې بلې ناروغۍ نښه ګڼل کېږي. که چېرې د ځان په اړه د زړه کومې ناروغۍ یا حملې شک لرئ نو د زیاتې خولې راتلو په حال کې هرو مرو ډاکټر ته رجوع وکړئ، خو که چېرې د خولې راتلو سره د سینې تکلیف هم وي نو دا د زړه د جدي ناروغۍ نښه وي.

ذهني فشار: زیات وخت د ذهني فشار په نتیجه کې له بدن څخه خوله وځي، فشار یا ذهني سترړما بوازې پر بدن منفي اغېز نه کوي بلکې د خولې وتلو پرمهال هم انسان له د زیان رسولو خبرتیا ده.

د وینې کم فشار: ځینې مهال د وینې کم فشار هم د زیاتې خولې وتلو نښه وي، دا هغه نېمال هم پېښېږي چې نوسم ګرم له وې خو د وینې فشار کچې په کمېدلو سره ډېره زیاته لوږه، ذهني ستومانتیا، سر تاویدل او د سترګو لیدو په څېر ستونزو نیې څرګندېږي.

د درمل منفي اغېز: د زیاتې خولې وتل د بېلا بېلو درملو خوړلو پرمهال هم کېږي، که څه هم دا کومه ستونزه نه ده خو ځینې د انتي بایوټکس، د وینې فشار یا نور درمل په استعمال سره خوله راتلل منفي خو عام اغېز ګڼل کېږي.

که چېرې مو له پورته ستونزو څخه کومه نه درلوده او له بدن څخه مو بیا هم زیاته خوله څارجېږي نو په لاندې خوړو سره یې مخه نیولای شي: د مني سرکه، د لیمو شربت، ماڼګه او لیمو، تور چای، د خوړو سودا: همدا ډول ددې ستونزې له منځه وړلو لپاره ماڼګه او ټیموګډ کړئ په لاسونو او پښو یې وموسمخې له وچېدو وروسته یې پرېمنځئ.

داسې اپلیکیشن چې د ((ټوخي)) د آواز په اوریدلو د ناروغۍ تشخیص کوي

په عام ډول د ناروغۍ تشخیصولو لپاره ډاکټران د خپلو تجربو پر اساس او یا هم د بېلا بېلو ټیستونو په کولو سره ناروغي تشخیصوي، خو لکه څرنګه چې عصري طب د ټکنالوژۍ په برخه کې ستر پرمختګ کړی همدا ډول طبي ساینس پوهانو د ټکنالوژۍ په مرسته یو داسې اپلیکیشن یا کارېدال چمتو کړی چې د ټوخي اواز په اوریدلو سره د ناروغۍ تشخیص کولای شي. د استرالیا په کوینزلینډ پوهنتون کې پوهان په دې توانېدلي چې د «۱۴۳۷» د کوچنیانو چې عمرونه یې ۱۲ کاله وو د ټوخي اوازونو په واسطه د خیرک مبایل یو داسې اپلیکیشن چمتو کړی چې د ټوخي اواز په اوریدلو د ناروغۍ اصلي لامل پېژندګلوی کړي. زیاتره کوچنیان د ټوخي پر ناروغۍ ډېر اخته کېږي چې بېلا بېل لاملونه هم لري، ددې اپلیکیشن په واسطه کولای شي د ماشوم د ټوخي اواز په اوریدلو سره د ناروغۍ نوعیت او یا هم چې ماشوم کې د کومې ناروغۍ د اخته کېدو امکان زیات دي وپېژني. که څه هم ماشوم باید د ټوخي پرمهال ډاکټر ته وښودل شي خو که چېرې دغې نه لاسرسي ستونزمن وي نو دغه اپلیکیشن د ټوخي اواز له سختوالي د ناروغۍ اندازه معلومولی شي چې ایا ناروغ په کومه ناروغۍ اخته دی.

ددغه اپلیکیشن د لومړي وار ازموینې لپاره «۸۵۲» بېلا بېل د ماشومانو ټوخي اوارونه وازمویل شول، چې اپلیکیشن په کامیابۍ سره د هر ټوخي اواز په اوریدلو د ناروغۍ اصلي لامل او نوعیت له ۸۱ څخه تر ۹۷سلنه پورې سم معلوم کړی دی. تر دې دمه ددې اپلیکیشن په واسطه د سینه بغل، ساغري، ساه تنګي، او نوري تنفسي ناروغۍ په رسمي ډول تجربه شوې دي، خو د لا غوره والي لپاره پرې کار روان دی. دغه اپلیکیشن تر دې دمه له بېلا بېلو ازموینو لاندې دی او په عام ډول د خلکو پرمخ نه دی وړاندې شوی، خو ویل کېږي چې ډېر ژر به وړاندې شي او خلک به د ناروغۍ پرمهال له سخت تشویش څخه وژغورې. د یادونې وړ ده چې له دې وړاندې جاپاني ساینس پوهانو هم دې ته ورته اپلیکیشن چمتو کړی و چې په واسطه به یې د تنفس ناروغیو تشخیص کېدل شوي وو.

د بوتلونو تودې اوبه روغتیا ته زیان اړوي

که په موټر کې له خان سره په بوتلونو کې اوبه لرئ، مه یې ځښئ! ځکه چې روغتیا ته زیان لري. په دغو بوتلونو کې چې د اوبو د حرارت درجه تر ۷۰ سانتي ګراده جدي زیان اړولی شي په دغه حالت کې د اوبو د حرارت درجه تر ۷۰ سانتي ګراده ګرمي له امله له اوبو سره ګډېږي او اوبه زهري کوي چې بیا وروسته انسان ته د خښلو پر مهال زیان اړوي. که چېرې له موټره بهر د حرارت درجه له ۲۰ تر ۲۵ پورې وي، نو د موټر په داخل کې به د حرارت درجه له ۴۰ تر ۷۵ پورې وي. د دې لپاره چې بوتلونه خراب نه شي، د هغو د جوړولو لپاره یو ډول مواد چې (Polyethylene terephthalate) نومېږي، استعمالېږي او دغه مواد ډې پې او اې، د ګرمۍ نه کېله له اوبو سره ګډېږي، کله چې په اوبو کې حل او یا وخښل شي، د انسان صحت له زیان اړوي.

له زیان لرې په دغو بوتلونو کې اوبه د ګرمۍ له کېله ګرمېږي او د انسان روغتیا له نورې او د پاد بوتل پلاستیکي مواد چې په ترکیب کې کیمیاوي مواد لري، د

څلور عادتونه د سرطان د رامنځته کېدو لامل کېږي

په امریکا کې د سرطان یو شمېر پوهانو ځینې عادتونه په نښه کړي چې د سرطان رامنځته کېدو لامل کېږي، د بېلګې په ډول په سهار ناشته کې زیات ګرم ځیګاک کول.

هغه څلور عادتونه چې د سرطان لامل کېږي په لاندې ډول دي:

ډېر ګرم خوراک یا ځیګاک: په هغو کسانو کې د مري د سرطان رامنځته کېدو خطر زیات وي چې د ډېر ګرم خوراک یا ځیګاک استعمال کوي، دوی د خولې له وچېدو وروسته هم مخ کېږي. ددې لپاره پوهان سپارښته کوي چې د کوم خوراک یا ځیګاک د تودوخې درجه له ۶۰ څخه زیاته باید ونه خوړل شي.

سپارښتې کافي: د کافي دانو د ازمېښت پرمهال له دې څخه ځینې سرطاني مواد جوړېږي چې د ځینو پرمهال زیان کوي. د بېلګې په ډول د سپرو سرطان ۳۱سلنه زیاتېږي، دغه خبره په امریکا کې د سرطان ټولنې په ۲۱ کلنو کې وې.

چې د ځینو پرمهال په بدن کې راټولېږي، له هغې ځینې له دوه پیالو څخه زیاته کافي څښل په هغو کسانو کې چې سګرټ هم څښي د ځګر د سرطان د زیاتېدو پرمهال له دې څخه ځینې سرطاني مواد جوړېږي.

ګرم خوړو: که چېرې مو له بدن څخه زیاته خولې وځي نو د زړه حملې او یا هم د زړه کومې بلې ناروغۍ نښه ګڼل کېږي. که چېرې د ځان په اړه د زړه کومې ناروغۍ یا حملې شک لرئ نو د زیاتې خولې راتلو په حال کې هرو مرو ډاکټر ته رجوع وکړئ، خو که چېرې د خولې راتلو سره د سینې تکلیف هم وي نو دا د زړه د جدي ناروغۍ نښه وي.

ذهني فشار: زیات وخت د ذهني فشار په نتیجه کې له بدن څخه خوله وځي، فشار یا ذهني سترړما بوازې پر بدن منفي اغېز نه کوي بلکې د خولې وتلو پرمهال هم انسان له د زیان رسولو خبرتیا ده.

د وینې کم فشار: ځینې مهال د وینې کم فشار هم د زیاتې خولې وتلو نښه وي، دا هغه نېمال هم پېښېږي چې نوسم ګرم له وې خو د وینې فشار کچې په کمېدلو سره ډېره زیاته لوږه، ذهني ستومانتیا، سر تاویدل او د سترګو لیدو په څېر ستونزو نیې څرګندېږي.

د درمل منفي اغېز: د زیاتې خولې وتل د بېلا بېلو درملو خوړلو پرمهال هم کېږي، که څه هم دا کومه ستونزه نه ده خو ځینې د انتي بایوټکس، د وینې فشار یا نور درمل په استعمال سره خوله راتلل منفي خو عام اغېز ګڼل کېږي.

که چېرې مو له پورته ستونزو څخه کومه نه درلوده او له بدن څخه مو بیا هم زیاته خوله څارجېږي نو په لاندې خوړو سره یې مخه نیولای شي: د مني سرکه، د لیمو شربت، ماڼګه او لیمو، تور چای، د خوړو سودا: همدا ډول ددې ستونزې له منځه وړلو لپاره ماڼګه او ټیموګډ کړئ په لاسونو او پښو یې وموسمخې له وچېدو وروسته یې پرېمنځئ.

د ښې وینې پاڼې کېدل: کم خوب او د شپې له نوخته وینې پاڼې کېدل په بدن کې د میلاتونین هورمون خوشېدنې کمښت، میلاتونین د انسان په بدن کې د ورځنۍ زېږنې سوولیت پر غاړه لري، کله چې تدې هرمون کچه کمه شي، د پوهانو په وینا په بدن کې نې منفي رامنځته کېږي او پدې شمېر زیاتې لومړنې رابښکاره کوي. د پوهانو او د سرطان ناروغۍ متخصصینو په وینا دغې هرمون کموالی په انسان کې د سینو یا ټیوټو سرطان خطر زیاتوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادب ، تاریخ او فولکلور

د خوشحال په طب نامه کې نوي طبي حقایق

پوهنیار سیداصغر هاشمي

خوشحال خټک یو ماهر طبیب اوحکیم و، د طب او حکمت په میدان کې یې د عقل او پوهې نه ډکې خبرې کړې طب دخوشحال کسب نه و او نه د طب عمومي استعمال ته یې دومره وخت درلود ،خوطب په هغه زمانه کې د علم او ادب یوه حصه وه او د ضرورت مطابق دغه علم ضروري و

د روغتیا په برخه کې اصلاً د ده تجربه د الوتونکو په برخه کې وه، خو په انساني طب کې یې هم تجربې درلودې

طب نامه دخوشحال خټک منظوم اثر دی،لکه څنګه چې له نامه یې څرګنده ده په دې کتاب کې یې دځینو مرضونو د علاج لپاره درمل په کې ښودلي دي

خوشحال خان خټک په منظم او سیستماتیک ډول زده کړې نه وې کړې ، خو د دوو استادانو شاه اویس ملتاني او سیالکوټي صاحب نومونه په ځینو ادبي څېړنو کې یاد شوي

بابا د خپل وخت د فارسي، عربي او داسې نورو ژبو مطالعه درلوده، نو له همدې امله د ده پر وېناوو کې د

معنا له مخې د فارسي ژبې شاعرانو مولانا جلال الدین بلخي، سعدي، سنایي او داسې نورو د وېناوو څرګونه لیدل کېږي

همدارنګه د عربي ژبې ځینې منظومې زړې په دې دلالت کوي ، چې د عربي ژبې د ویلو او پوهېدلو پوره صلاحیت یې درلوده

په دستارنامه کې یې خای خای د خپلو خبرو د تائید لپاره د فارسي ژبې شعرونه، عربي معقولې، قرآني ایاتونه او احادیث راوړي دي

په ځینو آثارو کې خان بابا د فیلسوف په نامه یاد شوی ، چې د ده له مطالعاتو نه وروسته زیات ته رسولي شو، چې خان رښتیا هم فیلسوف و له اسلام ته مخکې په مصر او یونان کې هغه چاته دا لقب ورکول کېده ، چې د ټرې د اکثرو علومو او فنونو نه به یې مطالعه درلوده په هغه وخت کې ټول علوم د کل په ډول د یوې ونې د ډډ حیثیت درلود ، خو د وخت په تیریدو علوم تقسیم بندي شول او ورځ تر بلې علوم د پرمختګ په حال کې دي

خوشحال بابا هم د خپل وخت د اکثرو علومو مطالعه درلوده چې د ده په منظومو آثارو کې په طب نامې خپلې خبرې پیل کوم

طب نامه د بابا منظوم طبي اثر دی خوشحال د نورو زده کړو تر څنګ په منظم ډول طب هم نه دی لوستي ، خو د وخت د طبي آثارو مطالعه یې درلوده

د ده په طب نامه کې د ځینو طبي آثارو یادونه شوې او دا ثبات ته رسوي چې بابا حتماً دغه آثار لیدلي او ویلي

په کلیانو کې یې راغلي دي

د نزول علت بلا دی

د جا مه شه لا دوا دی
ما یو نقل اورېدلی
په شاعلیل کې کیلی
هغه نقل درته کیمه
زه په خپله نه وایمه

دطب نامې منظومې په وېناکې د شاعلیل، ذکر راغلی دی، دا اثر د خپل وخت مشهورطبي اثر او له پورته ذکر شوي شعر نه ثابتولای شو ، چې خان پورته اثر لوستی دی همدارنګه وایي

خو پرهیز دې پرې ډېر سخت وي
رز به روغ شي که دې بخت وي
په لوی طب کې مې لیدلي
بیا به خود مې ازموېلي

په پورته شعر کې د ،لوی طب، نه هدف طبي اثر دی امکان لري ، چې دا دې د بل اثر نوم وي او دا هم کېدای شي، چې دا دې د کوم اثر نوم وي

په ټرې کې له خوشحال مخکې ډېر لوی لوی طبي ډاکټران تېر شوي ، چې له دوی ابو علي حسین ابن عبدالله ابن سینا دی دی د طب او فلسفې لوی عالم تېر شوی او د طب په برخه کې یې د ،القانون، اثر یو ادبي شهکار بللی شو

دا کتاب د لوېدیځ په پوهنتونو کې تر ۱۷ پېړۍ پورې او هم د هند به نیمه وچه کې تر ۲۰ پېړۍ د طبي زده کړو د رسمي پروګرامو جز و

خوشحال د طب نامې په نسخه کې د رفرنس په ډول د القانون کتاب یادونه کوي او هدف یې دا دی چې دغه وېنا مادې کېلې له قانونه

په طب نامه کې خپې داسې روغتیایي وېناوې هم شته چې د معنا له مخې د ابن سینا له طبي نظریاتو او افکارو سره یې پرتله کولای شو

د ابن سینا په طبي تحقیقاتي وېناوو کې کله کله د سر له ناروغیو پیل کوي او په پښتو یې پای ته رسوي ، چې د خوشحال پر وېناوو کې هم داسې خبرې شته امکان لري چې خان به د ابن سینا د کتابونو مطالعه هم درلوده (وردګ، ۱۸۳_۱۸۵ مخونه)

د طب په ډولونو کې خوشحال د یوناني طب ډېره مطالعه درلوده، خو که چېرې یې خبرې د نننیو عصري طبي څېړنو سره پرتله کړو، خبرې هم یې تائیدولای شو

خوشحال د دیني علومو مطالعه هم درلوده او د ده اکثره لیکنې په دې دلالت کوي، که فضل نامه یې مطالعه کړو،نو زما دغه خبره به ثبوت ته ورسېږي

غواړم په قرآن او احادیثو کې طبي لارښوونې له عصري طب او د خوشحال بابا له طب نامې سره پرتله کړم او دا ثبوت ته ورسوم چې د خان طب نامه له نوي عصري وېناوو سره په ځینو برخو کې مقایسه کولای شواو همدارنګه یې وېناوې د قرآني آیتونو او احادیثو سره هم پرتله کولای شو

د کب ګټې په غذاکې د ماهي د غوښې

بادونه د الله تعالی ۹ سپېڅلي کتاب کې قرآن کریم کې شوې ده

زباړه ،، ستاسې لپاره د سیندښکار او د هغه طعام حلال وګرځول شو، تاسې او مسافران له هغو نه ګټه واخلئ ،،

همدارنګه د قرآن کریم بل ایات دی

زباړه ،،الله تعالی هغه آیت دی، چې سیندیې ستاسې لپاره مسخر کړ، چې د کبانو له تازه غوښې نه ګټه واخلئ ،،

خوشحال بابا دیې ،خیګر، مطالعه درلوده او د ده به نظرونو کې تصوفي، عرفاني، دیني او علمي خبرې ډېرې لیدل کېږي، نو له همدې امله د ده خپلې وېناوې له قرآن کریم سره هم اړیکې لري په طب نامه کې د ځینو شیانو یادونه شوې او د ماهي د خوړلو په هکله هم داسې خبرې لري، چې په قرآن کریم کې هم راغلي او نوي ساینسي او طبي تحقیقات په کې هم ذکر شوي

د سر درد لپاره یې لارښوونه کړې ده ماهي واخلئ له هرڅې پاک کړئ، کوم هډوکي یا لنګې چې لري، ځینې لرې کړئ او د کنځلو په تېلو کې یې ښه پوخ کړئ، کله چې ماهي پوخ شي وایي خلئ او په پولوښي کې یې کېږدئ چې غوړې سه ترې وځاځي کوم څه چې په غوړېدو کې پاتې کېږي، د شیشې په واسطه یې لرې کړئ ، چې

غوړې صاف شي او له هغه وروسته یې د مریض په غوږ یا پوزه کې وځکوئ. نو د سر درد به یې له منځه ولاړ شي لکه چې وایي

که تازه ماهي څوک واخلي
که روهو وي له بهر
اندرون یې درست ګالي کا
الایش یې کړه بد
دمروه په پاڼو ګټ شي
د ده کېده درست ګیګر
بیا یې ګېډه سره کوک کا
چې محکم شي لږ وېر
دکونجد په تېل یې پوخ کړه
چې ښه پوخ شي سراسر
بیا دې پوخ ماهي راواخلي
له روغه ګرم تر
په طباخ کې دې یې پرېږدي
چې غوړې شي ترې بدر
بیادې صاف هغه غوړې کا
په شیشه دې یې کا در
په صماخ کې یې پوخاخکی
یا په پوزه کې اندر
چې د درد ځښتن دا وکا
پرې ورکېږي درد سر
که هغه ماهي څوک وخوري
سود یې یاد لري بشتر

ناسور یې ډول بد تکلیف دی، چې د درملنې په هکله یې ستونزې موجودې وي ، خو د الله تعالی په فضل نوي طبي تحقیقاتود ډېرو سختو تکالیفو لپاره درملنه شوني کړې ده

زما اوښکې

زما اوښکې دمرحوم استاد پوهنوال غلام دستګیرړنګ دشعرونولومړنی ټولګه ده چې دهغه مرحوم له مړینې وروسته چاپ شوې ده دکابل پوهنتون دساینس پوهنځي پخواني استاد اودریاضي دپېارتمنټ مشرخدای بخښلي دیپلوم انجنیرغلام دستګیرړنګ خوږیاني د۱۳۸۹ هـ ل کال دلیندی په میاشت کې په حق ورسېد اروادې ښاده وي دنوموړي خدای بخښلي له مړینې وروسته دده دوه شعري ټولګې د عبدالرووف قتیل خوږیاني په کوښښ اود ډاکتر لطف الله ړنګ په کمپوزترتیب او چاپ ته چمتو کړای شوې چې دادی لومړنی ټولګه یې د ،، زمااوښکې،، په نامه له چاپه راووته اوبله ټولګه به یې په راتلونکي کې چاپ شي ددې چاپ شوې ټولګې په پیل کې دمیهن خپرندوی ټولنې په مرسته دپوښ په لومړي مخ کې په پنډ سپین لیک ،، زمااوښکې،، سرلیک اوبه لاندې څنډه کې یې دشاعر نوم لیکل شوی دی دلومړنی پاڼې په مخ کې یې هم دشاعر نوم راغلی دی ددې مخ

په پای کې لیکل شوي، چې ۱۳۸۹ کال دهمدې پاڼې په دویم مخ کې دافغانستان نقشه اونقشې جوړښت دبسم الله الرحمن الرحیم په مبارکه کلمه کې نغښتل شوی دی ترنقشې لاندې دکتاب پېژندنه او تري لاندې یې دکتاب نوم دشاعر نوم دچاپ ځای، دکتاب پلورنځی، دچاپ کال ۱۳۸۹ هـ کال اوبیا ډېرزیات دبختیارصاحب اووریې دچاپ شمېر اوددغه مخ په پای کې دنوري پلې کرښې په مخ کې په سپین خط لیکل شوی،چې ددې کتاب ټول حقوق له خپرنیزې ټولنې سره خوندي دي ددویمې پاڼې په لومړي مخ کې ډالی داسې لیکل شوې ، چې ،، دزړونمنو دواکدارواودهیلو دبیداکوونکي به نامه په دې کتاب پیل کوم او هغه چاته یې وړاندې کوم چې دپاک زړه په پرده کې پاکې آرزوګانې روژي اود دردونو اومایوسو امیدونوپوره پوره قدر دانې وکولای شي ترډالی لاندې لیکل شوي رنګ خوږیاني ددلوي میاشت ۱۳۸۹ کال ننګرهار جلال آباد ددې پاڼې په دویم مخ کې ښاغلي قتیل خوږیاني دلیکوال ترلنډې پېژندنې لاندې لیکلي دي ښاغلي رنګ دننګرهار ولایت دخوږیاني دمرکز کړې په زاړه ښار کې زېږېدلی هغه په قوم ابراهیم خېل خوږیاني اودارواباد محمدسرور خان زوی دی ارواباد بینوا په اوسني لیکوال کې دنوموړي دزېږېدلې نیټه ۱۳۰۷ هـ کال لیکلې ، خوبه خپله مرحوم وېلې چې په تذکره کې یې راته دزېږېدنې کال ۱۳۰۰ ل لیکلې ، خو زه هغه مهال چې امیر حبیب الله خان ووژل شو دکړې دشیراحمدخان کلا له ارواباد ملاصاحب سره دقدري ، مونې ، نظم ، پنج ګنج، ګلستان اوبوستان په زده کړه بوخت وم اوبیا می دکړې دروښانکوټ دلوی جومات له ملاامام ارواباد استاد محمدعلیخان څخه نوې دیني زده کړې وکړې

که دغه مهال ۱۹۱۹ ع ۱۲۹۸ ل ښاغلی رنګ اته کلن وګڼو، نوبه ۱۲۹۰ هـ ل کې زېږېدلی دی، په ۱۳۰۶ ل کال کې ښاغلی دکړې دلومړنیو زده کړو دپوونځي له څلورم ټولګي څخه فارغ شوی او په ۱۳۱۸ ل کال کې دکابل دارالمعلمین ښوونکی شو په ۱۳۲۹ ل کال دجلال آباد دمتوسطې مدیر شو، په ۱۳۳۰ ل کال کې یې دالفت، خادم، رښتین اونایب الحکمه عبدالله خان وردګ په ملاتړ دجلال آباد متوسطه، دننګرهار په لیسه ونومولې وروسته بیا دننګرهار، لغمان او کونړونو نوي ولایتي جوړښتونه رامنځته شول او دپوهنې رڼا ده، غربي ترلري پرتو سیمو ورسېد په ۱۳۳۱ ل کال کې دننګرهار ولایت دپوهنې مدیر وټاکل شو په ننګرهار کې دننګرهار دشاعرانو ټولنې جوړول یې دغه مهال ستره لاسته راوړنه ده په ۱۳۳۸ ل کال کې دپکتیا دپوهنې مدیر وټاکل شو، چې دلته دنجونو دښوونځیو موسس هم ګڼل کېږي

په ۱۳۳۹ ل کال کې دوخت دپوهنې وزیر ښاغلي علي احمدخان ، نوموړی دلغمان دپوهنې سرپرست مدیر وټاکه په ۱۳۴۰ ل کال کې دکابل دابن سینا لیسې مدیر وټاکل شو چې دوزارت په ملاتړې په کې دفتیل خوږیاني، محمدعثمان نژند په زیار پارسي کتابونه پښتو ته نه یوازې وژباړلو، بلکې وباړل شوي کتابونه یې دتدریس وړوګرځول په ۱۳۴۴ ل کال کې دپوهنې وزارت دملګرو ملتونو ښوونیزې او روزنیزې موسسې ته وروپېژندل شو، چې ورته دپوهنې ښوونځیو ته دکتابونو دلیکلو او دښوونکو دروزنې دنده وسپارل شوه په همدې کال په جاپان کې دریاضیاتوړپوالې غونډې ته وبلل شو او د استاذ ړنګ دریاضیاتو تعلیمي نصاب دآسیایي هېوادونو لپاره ومنل شو په ۱۳۴۴ ل کال دبیروت امریکا یې پوهنتون ته ولېږل شو او دریاضیاتو په څانګه کې یې لوړې زده کړې پیل کړې، هېوادته له راستنېدو سره سم دتالیف او ترجمې په ریاست کې دریاضیاتو ددپېارتمنټ علمي څېړې مقرر شو په ۱۳۴۹ کال امریکاته ولېږل شو دریاضیاتو اوفزیک په څانګه کې یې دفریدونیا په پوهنځي کې ماسټري واخیسته او په دوکتورا بوخت شو، دغه مهال دریاضیاتو نړیوال کنفرانس ته چې په جرمني کې جوړ شوی و وبلل شو خو په اساسي قانون دنیوکې

پرلامسل دوخت صدراعظم ، محمدیوسف خان بېرته هېواد ته راوغوښت او ددوکتورا دنیرس دفاع ترې پاڼې شوه

په ۱۳۵۴ ل کال دکابل پوهنتون دساینس پوهنځي استاد وټاکل شو او ثبات شمېرمحصلان یې وروزل په ۱۳۷۸ ل کال پېشورته مهاجرشو چې لومړی دسیدجمال الدین افغان پوهنتون علمي مرستیال اوبیا دافغان پوهنتون دریاضیاتو استاد وټاکل شو، کله چې افغان پوهنتون پکتیاته واستول شو استاد په پېشور کې پاتې شو په ۱۳۸۳ ل کال یې دسترګو عملیات ناکام ترسره شول چې دزوند په وروستیو وختونو کې یې سترګې له لیدو پاتې شوې

په ۱۳۸۰ ل کال کې دساینې پښتو خپرنو اوپراختیامرکز په مالي لګښت یې دطب، زراعت او انجنیري پوهنځیو دکیمیا او بیولوژي څانګوته دعمومي ریاضیاتو اساسات کتاب چاپ او خپور شو ددولسم ټولګي ریاضیات دنهم ټولګي کیمیا دپوهنتون دلومړی اودویم کورس لپاره خطي الجبره اودسیټ نظریه یې هغه کتابونه دي چې پخوا چاپ اوخپاره شوي دي مرحوم ړنګ سربېره پرپښونیزو پراختیایي هڅو په لوی ننګرهار، کابل اوپکتیا کې له ورځپاڼو سره ملي اوفرهنګي مرستې ترسره کړې او هم یې دپکتیاهمدارنګه اخبار دمدیر نورمحمد پوونده په غیاب کې ددغه اخبار سرپرستي هم کړې ده دجمعې شپه او ،، وزیربه یې دلنډه کیسه بیلګې دي چې دپکتیا په وړانګه اخبارکې پرله پسې خپرې شوي دي دغه راز یې په ننګرهارکې لسګونه اصلاحي

اوانتقادي ډرامې دستېج لپاره جوړې کړې چې بریالی لوبیدلي دي دښاغلي رنګ لیکنې اوشعرونه په هېواد، زېري، اصلاح اووړانګه اخبارونو کې خپاره شوي دي وریسې قتیل صاحب داوښکې ترسرلیک لاندې سریزه اوبیا عارف خان همدرد سپې دخو خبرې تر سرلیک لاندې خپلې لوریې کړې دي تردې دمه یې دغه شعري ټولګه چې زما اوښکې نومېږي خپره شوې چې په ۲۱۶ مخونوکې یې ۸۹ شعرونه ځای کړي اودلوستونکو اومینه والو دادبي تندې ماتولو ته یې وړاندې کړې دي، دکتاب په لومړي برخه کې ،، زماربه،، ترسرلیک لاندې مناجات داسې دی

زما ربه نوی رنګ نوی جهان را
نوو نوو اشاروته نوی شان را
زما ربه په توفیق مې هومره بارکړې
چې ځان وپېژنم ځان لره چشمان را
دنیا نه ده لوی درباب دی په کې
ورک شوم
لاسنیوي ته مې لایقه کشتیبان را
چې صاحب دقناعت وي په هرڅه کې
خدایه دغه رنګ سپېڅلی پاک
وجدان را
چې دخپل ورور دوجود غوښې ونه
خوري
هسې رنګه ملکان او حاکمان را
لمدې غوښې پرې دورور چې
خوړی نشم
داسې خوله خاونده دارنګه زبان را

دکتاب په پای کې یې دمور، ترسرلیک لاندې داسې لوریته کړې، چې دهرمرض د واده هغه مور ده

تش مکا یې په ژوندون کې نوی
زوند دی
په صفت چې مسیحا ده هغه مور ده
ګل باعث دزیبایي دچمن ګرځي
چې دهرګل نه زیبا ده هغه مور ده
په للوللو کې رنګ ورکوي رنګ نه
په ښکلا کې چې ښکلا ده هغه
موره

مولف آقا محمدګرندی

مطالعه کتاب ((اگر جهانیان شکست بخورند)) مفید میباشد

حیات الله حلیم

اگر جهانیان شکست بخورند نام کتابیست که مجموعه از نوشته های سیاسي و اجتماعي محمد اسمعیل یون استاد پوهنتون کابل بوده که در گام نخست به لسان پشتو نوشته و چاپ گردیده است و نظر به اهمیت محتوایی بار دوم توسط مصطفی عمر زی به لسان دری ترجمه و چاپ گردیده است

درین کتاب در مورد وضع تلخ و نا هنجاری های اجتماعي سیاسي افغانستان توضیحات سازنده و انتقادی ارایه گردیده یا به عباره دیگر این کتاب مجموعه از نوشته هاییست که با دو رویکرد اجتماعي و سیاسي وبا توجه محوری برحضور جامعه جهانی ، مارا به

مردم عام اند ، ولی اهمیت آنها ، زمانی آشکار میشود که حاصل دهند وآن زمان متوجه می شویم که ظاهرساده ی بسیاری ازمفاهیم ، وقتی در دستگاه تجزیه و تحلیل عقلانی قرارمیگیرد ،چه مهم ،تاثیر گذار وحاد بوده اند

این کتاب در کنار فراخوان شما بر مساله های مهم ،گوشه های ازبینش ومنش نویسنده اش را با شفافیت کامل و کوتا ترسیم میکند نویسنده ی کتاب با جسارت وجرئت درخورتحسین ازتاختن به هرنا بکاری هراس ندارد و بندار و دقت بیشتر برآن ساله های می کشاند که در ظاهر جزهمان گفتمان های

درحالیکه ما یک برنامه ی روشن فرهنگی می کوشد تا خالیگاه حوزه ی کارفرهنگی ، فزون شود ، در بحث سیاست وعدالت ، خواهان تامین حقوق انسانی و درخورشان مردم این سر زمین است ، باید گفت که تمام مقالات این کتاب به روحیه ملی نوشته شده است در صفحه ۲۹ کتاب میخوانیم ، درگونه ی عام ، ملت افغان درحاکش حضور هیچ نیروی خارجی را نه می پذیرد و نه تحمل کرده میتواند ، لیکن هنگامی که حضور

۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغان «جزائل»، چې د انګرېزانو تر پښو لاندې يې مځکه سور اوږکړه

جواد مختار

جزائل څه شی دی؟

په افغان - انګلیس لومړی، ۱۸۳ــــ ۱۸۴۲، دویمې ۱۸۷۸ــــ ۱۸۸۰، دریمې ۱۹۱۹، جګړو کې یوازینی چې د انګرېزانو خوب ګټې تسبتولی و جزائل (Jezail) ټوپک و انګلیس تاریخ لیکونکي وایي د مکناټن له قوله د هغه مشهوره جمله لیکي «افغانان به له جګړو ستړي نه شي او جزائل له ډزو».

کابو دوه سوه کاله د مخه زموږ نیکونو د دښمن مقابله په خپل لاس جوړو کړېو ټوپکونو (جزائل، کوله، زنات) يې د کابل په اهنګرخانه کې جوړېدل او یو شمېر نور بیا په مختلفو ډولونو او شکلونو د هېواد په نورو برخو کې. دا ټوپکونه طبیعتاً د افغانانو له جثې (بدني جوړښت) سره جوړ وو؛ اوږده، ظریف، رسا نښه ویشتونکي، ساده او په عین حال کې خطرناک.

له جزائل څخه د انګرېزانو وېره

Behind the Khyber Pass د جان ویلر لیکل شوی کتاب دی چې د افغان جزائل په اړه یکې به پوره تفصیل خبرې شوي ویلر د مېرمن لیدي سیل (د ګرمن رابرټ باب مېرمن وه چې له انګرېزانو سره د برغل پر مهال يې افغانستان ته سفرونه کړي) له قوله به خپل کتاب کې لیکي «داسې لیدل کېږي چې انګرېزي مسکټ ټوپک اغېزمن نه دي او په قشله کې پراته دي، انګرېزان له زړو ټوپکو کار اخلي چې دواړه د افغان جزائلو سره سیالي نه شي کولای، انګرېزانو باید د افغان جزائلو بېخ ایستلای وای»

کله چې د کابل په بې بې مهرو غونډۍ کې جګړې شدت واخېست او له هر لوري افغاني غازیانو حملې پیل کړې، دا داسې وخت و چې جګړې خودجوشه حالت غوره کړی و نه کوم قوماندان موجود و او نه هم په دې جګړه ایز حالت کې له چا سره ددې فکر و او نه هم په داسې احساساتي وخت کې چا، د چا خبره اورېدله، له انګرېزانو لاره ورکه وه د دوی کوښښ دا و چې له هرې ممکنې لارې په استفادې خپل ژوند، و ژغوري، د همدغه کتاب په ۲۲۲ مخ کې لیکل شوي: «ګرمن تامس اولیور غوښتل خپل ډار شوي عسکر د بې بې مهرو د غونډۍ سرته و خېروي، هیڅا د هغه خبره و نه منله او په همدې کشمکش کې د جزائل د ګولۍ ښکار شو، دا د هغه د خولې وروستۍ خبره ده، خپلو خلکو پرې برباد کړم»

په بې بې مهرو کې له جګړې وسپنیز زنځیر: دا وسله يې قلاب بلله او له لرې فاصلې په دښمن ورګوزاریده هو بهو لکه د اوسنیو تکواندو بازانو نانچک، چې زنځیر لرې خو په همدومره لوېږ چې نانچک د زنځیر په دواړو سرونو کې لرګې لري او قلاب یوازې په یوه سر کې تېغ لرونکی توپ، دا له لوري خطرناک او اغېزمن و او چا چې به قلاب کاراوه هغه يې قلابې باله

کله چې د باروتو وخت راغی لومړنی کس اعلیحضرت شاه محمود هوتک و چې په ۱۷۳۲ کې يې د ایران په وړاندې بارودي توپ (زنبورک) وکاراوه، دا پر اوښانو د جګړې ګر ته انتقالېده

قلاب، زنبورک، جزائل، لوري، نېزې او چړې دا ټول زموږ د نور ټوپکو استاګاره

د ښو خوانانو خون به ستا په غاړه وینه

چاوني په توپو نه وراتېري

تکړه زلمیان يې په ټوپکو وراتوینه

د استعماري جګړو پر مهال جزائل هغه یوازینی ټوپک دی چې په انګلیسي ادبیاتو کې يې یادونه شوې، دا لاندې شعر روډیارد کیپلنګ انګرېز شاعر په ۱۸۸۶ کال ویلی

A scrimmage in a Border Station
A canter down some dark defile
Two thousand pounds of education
Drops to a ten-rupee jezail
The Crammer's boast, the Squadron's pride
Shot like a rabbit in a ride

په سرحدي پړاو غوغا وه
آسونو په خپله خفاسته فضا خپره کړې وه
د دوه زره پاونده تعلیم
د لسو روپیو جزائل ته ټیټ شو
د بووالي تیغ، د نظم و ضبط غرور
په خفاسته کې لکه د سوی په شان ولګیده
